# د فیلیمون په نوم د پولوس رسول خط

## پېژندګلو

په اِنجیل شریف کښې د فیلیمون خط د ټولو نه ورکوټے خط دے. په دې خط کښې پولوس رسول ټولو مسیحی ایماندارانو ته په خپلو کښې د ورورولۍ تعلیم ورکوی، او د خفګان نه وروستو د پخلا کېدو تعلیم ورکوی. اونیسیموس د فیلیمون نوکر وو. او فیلیمون د کولوسیانو په جماعت کښې یو ایماندار وو. اونیسیموس د فیلیمون نه غلا وکړه او وتښتېدلو نو په هغه زمانه کښې د داسې کار سزا مرګ وه. د هغۀ د تښتېدلو په دوران کښې اونیسیموس د پولوس رسول په ذریعې سره په حضرت عیسیٰ مسیح ایمان راوړو او ایماندار شو. نو بیا پولوس رسول فیلیمون ته یو خط ولیکلو چې هغه دې خبرې ته تیار کړی چې اونیسیموس ته سزا ور نۀ کړی او هم داسې بېسزا یې پرېږدی او په حضرت عیسیٰ مسیح کښې ورته د ورور په سترګه وګوری. د حفظ کولو دپاره ۱:۶ آیت ”ستا دپاره زما دا دُعا ده چې کوم شراکت چې د ایمان په وسیله په تا کښې پیدا شوے دے هغه دې نور هم اثرناک شی او تۀ دې د ټولو هغه برکتونو چې په مسیح کښې دی په پوره توګه محسوس کړې.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دُعا او سلام

۱ زۀ پولوس دا خط چې د عيسیٰ مسيح دپاره قېدی يم او زمونږ د ورور
تيموتيوس د طرف نه خپل ګران د خدمت ملګری فيليمون ۲ او ورسره خپلې
خور افيه او ورور ارخيپوس ته چې زمونږ پرجوش کارکن دے او ستاسو د کور
جماعت ته ليکم. ۳ زمونږ د خُدائ پلار او د مالِک عيسیٰ مسيح د طرف نه دې
په تاسو فضل او سلامتی وی. ۴ زۀ چې کله تاسو په خپلو دُعاګانو کښې يادوم
نو د خپل خُدائ پاک شُکر کوم، ۵ ځکه چې زۀ ستاسو د ټولو مقدسينو سره د
مينې او په مالِک عيسیٰ مسيح د ايمان نه خبر يم. ۶ ستا دپاره زما دا دُعا ده
چې کوم شراکت چې د ايمان په وسيله په تا کښې پيدا شوے دے هغه دې نور
هم اثرناک شی او تۀ دې د ټولو هغه برکتونو چې په مسيح کښې دی په پوره توګه
محسوس کړې. ۷ اے زما وروره، ما ته ستا په مينه ډېره خوشحالی او تسلی
مِلاو شوې ده ځکه چې ستا په سبب د مقدسينو زړونه تازه شوی دی.

## پولوس رسول د اونيسيموس دپاره سفارش کوی

۸ اګر کۀ زۀ په مسيح کښې دومره زړَور يم چې تا ته د خپل کار کولو حُکم
درکړم، ۹ خو زۀ تا ته د مينې په بنياد مِنت کوم او زۀ پولوس دا د يو بوډا
سړی په طور او هم د عيسیٰ مسيح د يو قېدی په حيثيت کوم. ۱۰ زۀ تا ته د
خپل زوئ اونيسيموس دپاره مِنت کوم، د چا چې زۀ د قيد په دوران کښې
روحانی پلار جوړ شوم. ۱۱ اول خو هغه ستا دپاره بې‌کاره وو، خو اوس هغه
ستا او زما دواړو د کار دے. ۱۲ زۀ هغه تا ته واپس درلېږم هغه څوک چې زما
د زړۀ سر دے. ۱۳ ما غوښتل چې هغه ځان سره پاتې کړم، چې د زيری دپاره د
قيد کېدلو په دوران کښې ستا په ځائ هغه زما خِدمت وکړی. ۱۴ خو ما ستا د
مرضیٰ نه بغېر داسې يو کار کول ونۀ غوښتل، ځکه چې ستا نيک کار ستا په
مرضیٰ دے او د زبردستیٰ په وجه نۀ دے. ۱۵ شايد چې هم دا وجه وه چې هغه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا نه د لږ وخت دپاره جدا شو، د دې دپاره چې هغه به بيا د تل دپاره تا سره
وی. ١٦ خو نور هغه د غلام په شان نه بلکې د غلام نه زيات دے، ځکه چې هغه
ما ته يو ګران ورور دے. نو اوس به هغه تا ته د يو انسان او په مالِک کښې د
ورور په شان وی. ١٧ نو که ته ما خپل شريک ګڼې نو دے داسې قبول کړه لکه
څنګه چې ته ما قبلوې، ١٨ او که هغه چرې تا ته څۀ نقصان درکړے وی او يا
پرې ستا څۀ قرض وی نو هغه ما پسې وليکه. ١٩ زۀ پولوس درته په خپل لاس
دا ليکم چې زۀ به يې په خپله درته واپس کړم، او دې وئيلو ته ضرورت نشته چې
زما په تا کوم قرض دے نو هغه هم ته په خپله يې. ٢٠ اے وروره، زۀ په مالِک
کښې تاسو نه د خير طمع کوم. هغه دا چې په مسيح کښې زما زړۀ تازه کړه. ٢١
زما ستا په فرمانبردارئ باور دے، زۀ درته دا ليکم او په دې پوهېږم چې ته به زما
دا خواست پوره کړې، بلکې زما د وينا نه به زيات څۀ وکړې. ٢٢ او بله دا چې
زما دپاره يوه کوټه تياره کړه، ځکه چې زما اُميد دے چې ستاسو د دُعاګانو په
وسيله به زۀ بيا تاسو له درشم.

## آخری سلامونه

٢٣ اِپفراس چې د عيسىٰ مسيح په وجه ما سره قېدی دے تا ته سلامونه وائی،
٢٤ او هم دغه شان مرقوس، اريسترخوس، ديماس او لوقا هم چې په دې
خدمت کښې زما ملګری دی. ٢٥ د مالِک عيسىٰ مسيح فضل دې تاسو ټولو
سره مل وی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ٢٠١٩
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.